اې د الله رسوله! هيڅ وړه او لويه ګناه مې نده پرېښې مګر دا چې کړې مې ده، هغه وفرمايل: آيا ته ګواهي نه ورکوې چې په حقه د عبادت لايق نشته مګر يوازې يو الله دی او پدې چې محمد د الله رسول دی؟

له انس رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: يو سړی نبي صلی الله عليه وسلم ته راغي نو ويې ويل: اې د الله رسوله! هيڅ وړه او لويه ګناه مې نده پرېښې مګر دا چې کړې مې ده، هغه وفرمايل: آيا ته ګواهي نه ورکوې چې په حقه د عبادت لايق نشته مګر يوازې يو الله دی او پدې چې محمد د الله رسول دی؟» درې ځلې. «هغه وويل: هو: نو ويې فرمايل: يقينا چې دا په هغې سره له منځه ځي يعني بخښل کيږي.

[صحيح دی] [ابو يعلى، الطبراني او ضياء المقدسي روايت کړی دی]

يو سړی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی، ويې ويل: اې د الله رسوله! ما ټول ګناهونه او خطاګانې کړي دي، او هيڅ وړه او غټه ګناه مې نده پرېښې مګر دا چې کړې مې ده، نو آيا ماته بخښنه کيږي؟ نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: آيا ته پدې ګواهي نه ورکوي چې له الله تعالی پرته په حقه بل معبود نشته او پدې چې محمد د الله رسول دی؟ درې ځلې يې ورته تکرار کړه، نو هغه جواب ورکړ چې : هو؛ ګواهي ورکوم، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم د شهادتينو په فضيلت خبر کړ او دا چې د ګناهونو لپاره کفاره دي، او دا چې په توبې سره مخکنې ټول ګناهونه بخښل کيږي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65006